څوک چې د الله لپاره حج وکړي، فحشا او بد اخلاقي و نه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زیږولی و

له ابوهريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی فرمايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «څوک چې د الله لپاره حج وکړي، فحشا او بد اخلاقي و نه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زيږولی و».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې د الله لپاره حج وکړ او له رفث څخه يې ځان وساته، چې رفث کوروالي او د کوروالي مقدماتو ته وايي لکه مچې اخيستل او يا لوبې کول، رفث بدې وينا ته هم ويل کيږي، او د ګناهونو او بديو په کولو سره فسق يې ونکړ، او له فسق څخه په احرام کې د منع شوو کارونو کول هم دي، نو له حج څخه به بخښل شوی راوګرځي، لکه څرنګه چې يو ماشوم له ګناه څخه پاک زيږيږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2758